# د مکتوب نګارۍ تاريخ (نړيواله جائزه)

## History of Letter writing
## (A Global Approach)

Miss Sema*

**ABSTRACT**

Since the formation of this world, letter writing has been remained a very effective tool for correspondence. Human has used this very tool for delivering messages i.e. political, religious, literary etc. Since the day the human came to know how to read & write, this device of conveying messages to others has been in practice. In this article I have tried to put light on letter writing in global prospective.

د زمکې په مخ د انسان تخليق چې د کله نه شوے دے او قدرت دۀ ته د ګويايۍ قوت عطا کړے دے نو هغه وخت نه واخله تر دې وخته پورې انسان خپل دغه د ګويايۍ يا د خبرو د قوت اظهار په څۀ نه څۀ شکل کښې کړے دے. د هم دغه خصوصيت په سبب انسان ته "حېوان ناطق" هم وئېلے شي. کله نه چې انسان پېدا شوے دے، ليک لوست ئې شروع کړے دے غرض دا چې ليک کول د انسان يو اهم ضرورت دے.

خط ليکل يو هنر دے. وائي چې د دې ليک له يو کاغذ او قلم پکار وي خو دغه کاغذ او قلم سره چې د ځيګر وينه هم شامله شي نو بې اصولي نه اصول جوړ شي، په ليک کښې ښکلا پېدا شي.

د تحرير د فن د ايجاد په رڼا کښې مونږه دا وئېلے شو چې د خپلې مدعا و ترسيل ذرائع په اصل کښې رقعات يا مکتوب وو کوم چې نن دور يو عام څيز ګڼلے شي. د نړۍ د ادبياتو د يو تاريخي دور نه هم دا نۀ معلومېږي

* PhD Scholar Pashto Department University of Peshawar

چې په دنیا کښې د ټولو نه وړومبې مکتوب چا لیکلے وو او چا ته ئې لیکلے وو. هسې خو مکتوب نګاري د دنیا زوړ اصنافِ سخن کښې شامله ده خو په عامه توګه دا د ادب حصه نۀ ګڼلے کېده.

اوس کتل دا دي چې اولنے خط ولې او چاته اولیکلے شو. وئیلے چې د خط نګارۍ شروع د روم نه شوې ده او د دې باره کښې د اردو یو لیکوال ډاکټر اسلام خورشید لیکي چې:

"خط نگاری کی ابتداء روم سے بتائی جاتی ہے اس زمانے کے بڑے علمی اور تہذیبی مرکز یونان میں اس کے نقوش نہیں ملتے۔ وجہ غالباً یہ ہے کہ یونان کی ریاستیں معاشرتی و جغرافیائی اعتبار سے ایک دوسرے سے منسلک اور مربوط تھیں وہاں کی معاشرے میں افراد کا رابطہ ایک دوسرے سے قائم اور بحال تھا۔ ڈاکٹر خورشید اسلام کے کہنے کے مطابق خط و کتابت کی روایت وہاں پروان چڑھتی ہے جہاں وسیع معاشرت' باقاعدہ حکومت' زیادہ سے زیادہ لوگوں کو جاننے کے مواقع' عمل زندگی سے لوگوں کی واقفیت اور اسکے ساتھ ساتھ ایک ایسی ادبی صلاحیت رکھنے والی زبان موجود ہو جو نزدیک اور دور بولی اور سمجھی جاتی ہو ۱"۔

پښتو ترجمه:

د مکتوب نګارۍ شروع د روم نه شوې ده. د علم و تهذیب مرکز یونان کښې د دې اثار نشته دا ځکه چې دا خلق یو بل ته نزدې وو. یو بل سره په رابطه کښې وو. ډاکټر خورشید اسلام وائي چې د مکتوب لیکلو روایت هغه ځائے پیدا کېږي چرته چې معاشره لویه او وسیع وي، خلق یو بل سره واقفیت جوړول غواړي. او دې سره سره د هغوي یو ادبي ژبه وي او دغه ژبه په لره بره هر ځائے وئیلے شي او خلق پرې پوهېږي.

د مکتوب نګارۍ په ابتداء یا شروع کښې یو اهم او لوئے نوم د "سِسرو" دے. دے رومن وو او زمانه ئې یو صدي قبل مسیح وه. ددۀ لیک

ګران او دقیق وو، اندازِ بیان ئې کلاسکیت والا وو. د دۀ ژبه لاطیني وه ځکه لاطیني خلقو ډېرو صدو پورې هغه ته د قدر په نظر کتل.

لاطینۍ نه پس په انګرېزۍ کښې باقاعده د خطونو ابتداء اوشوه. دا پنځلسمه صدي عیسوي وه او بیا اوولسمه صدۍ پورې دې سلسله کښې ځۀ خاص کار نۀ دے شوے. په انګرېزۍ کښې مکتوب نګارۍ کښې د جېمز پاول نوم راځي. خو د دۀ په خطونو کښې سادګي او بې تکلفي نشته چې د مکتوب نګارۍ دپاره ضروري وي.

په انګرېزۍ کښې د مکتوب نګارۍ په مېدان کښې ستر نوم د ولیم کوپر دے. هغه یو حساس شاعر وو، خلوت پسنده وو. شاعري او ملګرو سره ګپ شپ ئې مشغله وه.

ولیم کوپر نه پس دویم نوم تهامس دے. هغۀ ډېر وخت په کېمبرج یونیورستۍ کښې تېر کړے دے. هغه د انسانیت او د فطرت پرستاده شاعر وو. دې سره سره په انګرېزۍ کښې یو نوم د میري ماتې ګو هم دے. هغې زیات تر د خپلې لور په نوم خطونه لیکلي دي، چې پکښې ئې کورنۍ مسئلې، د بچو تربیت خبرې کړې دي. د دې نه علاوه د دې یوه مجموعه "ټرکش لېټر" (Turkish Letter) په نوم چاپ شوې ده چې پکښې د ترکې د حکومت، معاشرت، رسم و رواج باندې ئې نظر اچولے دے. اسلوب ئې مهذب او دانشمندانه او جذباتي دے.

میري ماتې ګو سره سره لارډ هیر، فلپ، رابرټ والیول نومونه هم ښکاره دي. د دوي اسلوب ساده او ښکلے دے او ډېر خوندناک انداز کښې ئې برخه هر ځۀ بیان کړي دي.

په انګرېزۍ مکتوب نګارۍ کښې د چارلس لېمب نوم هم د قدر وړ دے. یو مضمون نګار په حېث ډېر اهم مقام لري. د هغۀ خطوط د هغۀ د یو خاص او مخصوص اسلوب او مزاج عکاسي کوي چې پکښې خفګان، تنهائي، درد او مینه محبت داستان ښکاري یا په کښې موجود دي.

دې نه پس په انګرېزۍ کښې شيلے، لارنس او کيټس په نظر راځي. کيټس (Keats) په دې ټولو کښې ښکاره دے. هغۀ زيات تر خپلې محبوبې براؤن (Brown) په نوم خطونه ليکلي دي. هغه د فطرت شېدائي او خلوت پسنده انسان وو. د هغۀ په خطونو کښې سادګي، خلوص او معصوميت سره سره د مينې او محبت اظهار هم وو او جذبائيت پکښې هم ښکاره وو.

وائي چې د مکتوب نګارۍ ابتداء د روم نه شوې ده او په انګلستان کښې په اتلسمه صدۍ کښې عروج ته اورسېده.

په نړيوال تاريخ کښې پکار ده چې په دې سلسله کښې مونږ د اسلامي تاريخ حواله هم لږه ورکړو. په عربۍ ژبه کښې د دې ابتداء يا شروع د عهدِ نبوي ﷺ نه کېږي. دا مکتوباتِ محمدي ډېر د اهميت او د قدر وړ دي. دا مکتوب د دينِ اسلام د تبليغ او خورونې دپاره ليکلي شوي وو. خو دلته يو روايت دا هم دے چې که د دنيا تاريخ اوکتے شي نو وړومبے خط په "قرآن پاک" کښې موجود دے چې حضرت سليمان عليه السلام (۹۵۰ق م) د ملکه صبا په نوم ليږلے وو. دا خط د پېغمبرانه جوش او ولولې نه ډک دے.

انه من سليمٰن و انه بسم الله الرحمٰن الرحيم ـ الا تعلو على
واتونى سليمٰن[۲] ـ (سورة النمل)

پښتو ترجمه:

شروع کوم د الله نوم نه چې مهربان او رحيم دے. د سليمان له طرفه، تۀ غرور مکوه او اطاعت قبول کړه.

د فصاحت او بلاغت په لحاظ دا يوه غوره او مختصر خط وو. په عالم اسلام کښې به داسې خط موجود نۀ وي. اندازِ بيان پُرشوکت، الفاظ جامع، بې حده خوږ والے، په ادبيات عالم کښې د دې مثال نۀ شته. دا د قرآني ادبياتو يوه نادره نمونه ده.

اوس به بيا د نبي پاک ﷺ د دور خبره اوکړو. نبي پاک ﷺ ډېر بادشاهانو ته د دعوتِ اسلام ليږلي وو. دا خطونه ۲ هـ کښې ليکلي وو. دا خطونه ساده،

مختصر، بې ساخته او شيرين وو. اندازِ بيان ئې ساده عام فهمه او دلنشين وو. دوستانه انداز ئې وو او دې سره سره ئې د مقام او مرتبې خيال هم ساتلے دے. دا خطونه کوم چې اوس هم په اصل حالت کښې موجود دي شپږ (۶) دي او هرقل، مقوقس، نجاشي، منذر بن ساوي، کسرىٰ، او عبدو جيفر په نوم ليکلي شوي دي.

د خط مبارک نمونه:

"بسم الله الرحمٰن الرحيم، من محمد عبدالله ورسوله، الى هرقل عظيم الروم، سلام على من التبع الهدىٰ، اما بعد فانى ادعوک بدعايته الاسلام، اسلم تسليم، يوتک الله اجرک مرثين، فان توليت فعليکم اثم الاريين و يا اهل الکتب تعالو الى کلمۀ سواء بيننا و بينکم الا نعبد الا الله ولا نشرک به شيا ولا يتخذ بعضنا ارباباً من دون الله، فان تولو فقولو اشهدو بانا مسلمون".[۳]

پښتو ترجمه:

شروع د الله د پاکې نامې نه چې مهربان او رحيم دے. د خدائے بنده او رسول محمد ﷺ له طرفه د روم هرقل عظيم ته. سلام په هغوي چې اطاعت قبول کړي. زۀ تا له د اسلام دعوت درکوم اسلام قبول کړه. الله اجر ورکولو والا دے او که نه داسې نۀ کړې نو تۀ به گناه گار ئې. اے اهل کتاب! ستاسو او زمونږ مېنځ کښې خدائے دے چې د عبادت لائق دے. څوک ئې شريک نشته او که څوک منکر شي ورته وائي چې مونږ مسلمانان يو.

حضرت محمد ﷺ خطوط نگارۍ دپاره صحابه کرام مقرر کړل چې هغوي په دې فن کښې ماهران وو. رسول پاک ﷺ نه پس حضرت عمر رضی الله عنه د دې مقصد دپاره يو محکمه جوړه کړه (محکمه انشاء) او تر بنو اميه او بنو عباس پورې قائمه وه او ډېره ترقي ئې وکړه.

د رسول پاکﷺ د خطونو نه علاوه په مسلمانانو کښې د صوفياؤ او اولياؤ کرامو هغه رقعات هم ډېر د عقيدت وړ دي کوم چې هغوي خپلو مريدانو او عقيدمندو ته د هغوي د مختلفو تپوسونو په جواب کښې وخت په وخت ليکلي دي. په دې حقله په برصغير کښې د ټولو نه زيات شهرت لرونکے شيخ احمد سرهندي مجدد الف ثاني او په پښتونخوا کښې د مشهور صوفي بزرګ اخوند درويزه مشر زوئے ميا کريمداد دے. د مجدد الف ثاني خطونه "د مکتوبات امام رباني" په نوم چاپ شوي دي او د دې سره د کريمداد خطونه د "مکتوبات شيخ عبدالکريم" په نوم چاپ دي. د دې دواړو صوفيانو دغه مکتوبات په فارسۍ ژبه کښې دي. د مجدد الف ثاني د مکتوباتو ترجمه په اردو کښې هم شوې ده. دا خطوط د وحدت الوجود او وحدت الشهود او د علم و تصوف د اسرارورموز بېش بها خزانې دي او د دې سره سره دا خطونه د علمي افاديت نه علاوه په خپله ژبه کښې يو لوړ ادبي مقام هم لري.

عربۍ ژبې نه دا فن په روايت فارسۍ ته منتقل شو او دې فن د ايران په ځائے په نسبت هندوستان کښې ډېره وده اومونده. د مغلو په دور کښې ئې ډېره ترقي اوکړه. هندوستان کښې په فارسي مکتوب نګارۍ کښې وړومبے نوم د "اعجاز خسروي" دے. په دغه وخت کښې به ليک کاتب يا منشي کولو د القاب و اداب، د مرتبې د شان و شوکت به ئې ډېر خيال ساتلو. په دغه وجه ژبه ډېره ګرانه شوه، الفاظ پرتکلفه شو، خط کښې مشکل پسندي راغله او هم دغه د فارسۍ د خطوطو رنګ جوړ شو. په دې کښې رقعات بېدل، رقعاتِ عالمګيري، انشائے خليفه داسې نور د دې مثالونه دي. دې کښې ځنې په نصاب کښې هم شامل کړے شو. او عوامو هم بيا دغه طريقه خپله کړه.

نور اصنافو غوندې مکتوبات نګارۍ کښې هم اردو ژبې د فارسي اثر اخستے وو ځکه چې اردو پخپله داسې ژبه نۀ وه چې هغې دا فن مخ په وړاندې بوتلے وے. ابتداء کښې ئې فارسي طرز خپل کړو. مسجع او مقفٰی اسلوب ئې اختيار کړو القاب و اداب ئې هغه خپل کړل کوم چې په فارسۍ کښې وو. اردو

کښې د خطونو ابتدائي مجموعې مکتوبات احمدي، رقعات عنايت علي ډېرې اهمې دي. د ساده خطوطو شروع مظهر جان جانان کړې ده چې د غالب نه اويا (۷۰) اتيا (۸۰) کاله مخکښې وو. خو بيا هم د دې سادګي، خوږ والے، بې تکلفي، حسن او دل آويزي هغه نۀ وه کومه چې غالب خطونو کښې وه. غالب هم د فارسۍ طريقه خپله کړې وه خو رو رو اسانۍ دپاره اردو طرف ته راغے او ځان له ئې يو خاص انداز خوښ کړو. د غالب دې خاص طرز او انداز سره سره زوړ انداز هم روان وو. داغ دهلوي، امير مينائي، سيد ناصر علي د دې انداز نمائندګي کوي، خو وخت سره سره انداز بدل شو، القابات او اداب کښې سادګي راغله، اختصار پکښې راغے خو د ژبې او ليک انداز هم هغه وو.

په اردو ادب کښې اسد الله خان غالب خطونو ته ډېر لوړ مقام حاصل دے هغۀ ته د خپلو خطونو په برکت د جديد نثر د باني خطاب هم ورکړے شوے دے. غالب خطونه د شائع کېدو په خيال نۀ وو ليکلي او نۀ د هغۀ په ګمان کښې وو چې دا به يو وخت چاپ کېږي او دا به د ادب ټولو نه زياته غوره سرمايه ګڼلے شي.

غالب نه مخکښې د خطونو يو پُر تکلفه انداز وو. غالب خطونه د دغه قېدوبند نه ازاد کړل، قديم او فرسوده شاهي انداز ئې ېخي پرېښودو او اختصار او اسانۍ طريقه ئې رااوويسته هغه د خطونو ليکلو او ادب بريدونه پخپلو کښې سره يو ځائے کړل.

اردو خطوط نګارۍ په ارتقاء نظر واچوونو اسد الله خان غالب د يو روښانه منارې مثال لري. د هغۀ مکاتيب ته چې کوم مقام حاصل دے هغه نورو ته نۀ دے حاصل شوے. ډاکټر سيد عبد الله وائي:

> "مرزا غالب کے خطوط اردو خط نگاری کی تاریخ میں منفرد امتیازات کے حامل ہیں۔ ان میں مرزا کا رنگ طبیعت بلکہ نجی اور پرائیویٹ زندگی کے انعکاسات بھی شعاع ریزی کر رہے ہیں"۔[۴]

پښتو ترجمه:

مرزا غالب خطونه په تاریخ کښې منفرد مقام لري او د هغهٔ خطونو کښې د هغهٔ د طبیعت او نجي، ذاتي ژوند عکاس هم ښکاري.

د غالب د خطونو بهترینه مجموعه د "اردو معلی" په نوم چاپ شوې ده. د هغهٔ نه وروستو خط لیکلو یو صنف شکل اختیار کړو او د اردو لوړ او ستر لیکوال میدان ته شو.

دا قسمه مکتوباتو یا رقعاتو لیکلو اهمیت او نوعیت اتلسمې صدۍ عیسوۍ د اختتامه پورې وو. په نولسمه صدۍ کښې چې کله یورپ په ټولو ادبي اصنافو کښې یو فکر انګیز بدلون راغے نو دې هر څهٔ سره د خط ادبي مقام ته هم د لیکونکو پام رااوګرځېدو او ادب پوهان په دې اورسېدل چې خط یواځې دا نه چې پېغام رسانۍ ذرائع او معاشرتي علومو آئیني دي بلکې په دې کښې د خپل وخت تهذیب و تمدن د تاریخ او ثقافت سره سره د خلقو د ژوند حالات و واقعات هم وي کوم چې ځانله یو تاریخي او ادبي حېثیت لري. دې احساس سره په یورپ کښې په دې باندې کار شروع شو. په دې وجه هلته په دې لړ کښې بې حسابه خیالي او فرضي خطونه ولیکلے شو او بې شماره مجموعې چاپ شوې.

دغه وخته پورې په پښتو ادب کښې په خطونو کار نهٔ وو شوے یا ډېر کم شوے وو. خط لیکل او محفوظول د یو صنف په حېث ډېر کم خلق پېژني. دا نه چې پښتو کښې ښهٔ لیکوال نشته خو پښتو ادب لکه څنګه د ادب نورو ډېرو اهمو او غوره اصنافو کښې وروستو ده دغه رنګ په خطونو لیکلو او چاپ کولو کښې هم ډېره وروستو پاتې دے.

د فرضي او خیالي خطونو په سلسله کښې په پښتو کښې وړومبۍ مجموعه "بي بي نوره" چاپ شوې ده. د دې خطونو لیکونکے ستر ادیب سید تکریم الحق کاکاخېل (روغ لېونے) دے. دا خطونه د چا شاعر یا ادیب ادبي خطونه نهٔ دي کوم چې پورته بیان شوي دي. دا د فرضي او خیالي خطونو یوه مجموعه ده، دا خطونه د چاپ په خیال لیکلے شوي دي.

د دې خطونو په حقله سید تقویم الحق کاکاخېل لیکي:

"د اشاعت دپاره په خطونو ليکلو کښې ډېر زر په ليکونکي د اشاعت تصور غالب شي او خط د بې تکلفه خبرو په ځائے د مضمون شکل واخلي او تاثر ئې ختم شي". [۵]

په بي بي نوره کښې تکريم صېب سره هم دغه کهاته شوې ده. خدائے بخښلے تقويم الحق کاکاخېل ليکي چې:

"هر سړے خط ليکي لېکن هر سړے ښهٔ خط نهٔ شي ليکلے. د يو اديب خط صرف د کاتب او مکتوب الهيه تر مېنځه راز نهٔ وي هغې کښې د ژوند ډېر رازونه هم وي". [۲]

د پښتو مکتوب نګارۍ په تاريخ کښې اولنے چاپ کتاب "د مولانا عبدالقادر خطونه" دي. چې حاجي پُردل خټک صېب راغونډ کړي دي او پښتو اکېډمۍ په کال ۱۹۸۳ء کښې چاپ کړے وو. په دې کښې يو سل اوويشت (۱۲۷) خطونه دي. دا ټول هغوي د خپل ډائرېکټرۍ په وخت کښې ليکلي دي (۱۹۵۸ء نه واخله تر ۱۹۲۸ء) دا خطونه درې قسمه کسانو ته ليکلے شوې دي. د مولانا صېب دوستان، شاګردان او اديبان او شاعران او ټولو ته اندازِ خطابت ئې يو شان دے. مولانا عبدالقادر يو لوئے اديب او د اردو، فارسۍ، عربۍ او انګرېزۍ عالم وو. د هغوي ورکړې د پښتو ادب لويه سرمايه ده. د هغوي په خطونو کښې خلوص، مينه، سادګي، بې تکلفي په خپل ځائے موجوده ده خو د دې هر څهٔ سره د هغوي په کلام کښې اندازِ بيان مرزا غالب غوندې شوخ، رنګين او لطيف نهٔ دے. دا ټول لوازمات په ادبي توګه د يو اديب خوبۍ ګڼلے شي. د هغوي په مکتوبات کښې د يونيورسټۍ حالات، ماحول هغه وخت په نظر راځي، د هغه وخت لويو لويو سياسي، سماجي او ادبي سرکاري او غېر سرکاري کسانو، حکمرانانو، نوابانو غرض د ژوند هرې طبقې سره ئې نزدې تعلقات وو.

د مولانا عبدالقادر نه پس په پښتو کښې يو ستر صوفي شاعر او ليکوال امير حمزه خان شينواري نوم راځي چې د مکتوباتو ډېرې ښې ښې مجموعې ئې چاپ شوي دي.

# حوالې

[۱] اسلام خورشید ، ډاکټر، تنقیدیں، علي گړھ انجمن ترقي اردو هند ، ۱۹۵۷ء مخ ۱۴

[۲] شمس الاسلام، تفسیر احسن البیان، ماهنامه بهیره

[۳] فضل الرحمان، سید ، خطوط هادی اعظم صلی الله علیه وسلم، کراچی: سال ندارد ، ص ۵۳

[۴] طفیل محمد ، نقوش مکاتیب نمبر ، شماره نمبر۲۵ ، ۲۲ ، د چاپ ځائے نۀ لري جلد اول نومبر ۱۹۵۷ء مخ ۲۷

[۵] کاکاخېل، تکریم الحق، بي بي نوره، پېښور: منظور عام پرېس ، دوېم ځل ۱۹۲۳ء، مخ ۳۹

[۶] هم دغه اثر، مخ ۳۹